هدايت الله هدايت

۲۰۱۰/۰۸/۱٤م

# افغانستان و هر نړۍ خور ته د ستهاپ نکته ده

په افغانستان کي د «تجزيې» طرحه د امريکا زوال حتمي کوي

نهه کاله تېرسوه چي د امريکا او برتانيا جګړه ماره او بې مسؤليته دولتونو د ناټويي هيوادونو په سرکي د خپل دفاعي قلمرو څخه دباندي زموږ په هيواد کي د ترورېزم د جرړړو د ختمولو او د غربي ډيموکراسۍ او بشري حقوقو د اعادې په نامه يرغل وکړ. هغوی د ملګرو ملتو د امنيت شورا چي د پنتاګون په امر مصوبې صادروي يو دست آوېز هم په لاس کي لاره چي زموږ د مظلوم هيواد و اشغال ته يې «قانوني» بڼه ورکړي. ددې يرغل په نتيجه کي جنګي جنايت کاران، غله، قاچاقبران، اجيران، جاسوسان او د انساني حقوقو بر الا مجرمين يې و قدرت ته و رسول، د طالب او القاعدې د ځپلو په نامه يې د افغانانو او پښتنو په ډله ائزه وژنو لاس پوري او يوه تر ټولو بدنامه او فاسده اداره يې په کابل کي نصب کړ ل. ددې کلو په وهلو او د ميلياردو ډالرو په مصرفولو سره د افغانانو ګډ هيواد لا نور هم وران او تر پخوا زيات د افغانانو ژوند د ناخوالو سره مخامخ سو . اوس چي زموږ په هيواد کي د امريکا نهه کلنه جګړه لانجمنه او ځانونه يې و دېواله ته وليدل، نود هغه لانجو د حل د پاره چي همدا دوی يې مبتکرين او عاملين دي، د خپلو مزدورانو د خولې نه په ډېره نامردۍ سره ددې هيواد د تجزيې خبره راپورته کوي او ددې وطن د «لانجو» د حل د پاره امريکايي طرحه چي د افغانانو په وسيله د افغانانو وژل دي و ميدان ته را باسي. دوی داسي فکر کوي چي ددې طرحي په تطبيق سره به پخپله د خير په غونډی باندي کښېني، خپلي پوځي اډې به جوړوي او په سيمه کي به دلا نور و وطنو د لاندي کولو نقشې پلي کوي، خپل آسيايي حريفان به ځپي او ځان به هري خواته غزوي، خو افغانان به پخپلو کي يو د بل سره وژني . نن سبا افغانان ، د سيمي او د نړۍ ولسونه او هيوادونه په دې پوهيږي چي دامريکا دد غه شاني شيطاني طر حو تر شا کوم اهداف پراته دي ، څه وخت را منځته سوي او څه پايلې به ولري؟

د شلمي پيړۍ د اتيايمي لسيزي را په دې خوا يعني درست د هغه راهيسي چي د شوروي اتحاد د نړېدلو پروسه شروع سوه، پر نړۍ باندي د هژمونۍ او سلطې د ټينګېدو نخشه هم و ميدان ته را ووتله. په دې عرصه کي د امريکا د متحده ايالاتو حاکمه طبقه يعني هم ډيموکراټان او هم جمهوري غوښتونکې، د دې سلطې و تحقق ته لستوڼي را و نغښتل . په هغه وخت کي امريکا چي خپل قوي اقتصاد او پوځي پياوړتيا د حاله ايستلی اوپه مستي کي وو، وخپلي مخي ته ئې داسي سيال څوک نه ليده چي دا ببره يې په زړه کي را وګرځي، چي يو څوک به ئې پر ځای باندي کښېنوي . سلا يې پر دې سوه چي پر ټوله نړۍ باندي د پوځي تسلط لپاره تر هرڅه دمخه بايد ددغه کار تحقق د يوې يک لوختي پوځي ستراتيژۍ په رامينځته کېدو سره تثبيت کړي. د ۱۹۹۰ ليسزي په اوږدو کي د خليج، يوګوسلاويا، مينځنۍ اسيا، فلسطين او عراق په هيوادو کي يو لړ پوځي لاسوهني شروع سوې چي په واقعيت کي" د امريکايي سټايل جګړو" پيلامه وه ؛ داسي بې انجامه جګړې چي نخشه يې ديوه سره په واشنګټن کي طرحه سوې او پربکړي يې هم هورې ورباندي کېدلې.

هغه سياسي ستراتيژي چي ددغي طرحي د پر مخ بېولو کوښښ يې کاوه د پوځي لاسوهنو دپاره يې لازمي بهانې پيداکولې، د ترورېزم څخه را نيولې بيا د مخدره موادو تر قاچاقه پوري يا د ډله ايزه وژنو وسلو د توليد تر اتهامه پوري ، يعني داسي څه چي د بهانو ماهيت يې هغه وخت روښانه کېدئ، چي خلک په دې وپوهيږي څرنګه دغه بهانې د سي آي اې و سازمان ته دا امکان ورکوي ترڅو مثلاً يو « ترورېسټ » دښمن و ځانته جوړکړي . په افغانستان کي طالبانو او بن لادن - ته که ښه پام وسي نو اول خو دا تر هر چا و امريکا ته ښه معلومه وه چي هغوی څوک وه او بل داچي د سپټامبر د يولسمي حقيقت تر دا اوسه پوري هيڅکله هم چاته ندی روښانه سوی ،د بلي خوا هغه تورونه چي پر عراق او يا شمالي کوريا باندي د خطرناکه وسلو د احتمالي جوړېدو په خاطر لګېدله ، يو يې د خاورو خاکه او بل يې تر تحريماتو لاندي را ووست، نو دا خو کېدای سي سبا پر بل هر دولت باندي ولګيږي . داخبره هم بايد په ډاګه سي چي دغه ټولي ډنډورې د هغه وسلو په مقابل کي دونه ارزښت نه درلود لکه پخپله چي لا پخوا امريکا کارولي وې او يا يې اوس کاروي . يعني د امريکا لخوا د جاپان پر هيروشيما اوناکازاکي باندي د اټم بم د استعمال څخه را نيولې بيا په ويټنام کي د کيمياوي وسلو تر کارولو پوري اويا داچي د راتلونکي لانجو د امريکايي حل لپاره د ددې هيواد لخوا د اټم بم څخه د کارېدو تهديد او عام وژنه. لدې بابته دغه ټوله کمپاين د ګوبلزي تبليغاتو څخه پرته بل څه نه وو . که څه هم د ا به ښايي په متحده ايالاتوکي ساده خلګ راضي کړي خو په نورو ځايو کي د هغه و حقانيت ته اتبار نه ورکول کيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

هغه « وار دمخي جګړه» چي واشنګټن ددې پسته هر ځای و هغې ته لاس اچونه دځان « حق» ګڼي نو دا خو دهماغه اوله سره څخه د نړۍ واله حقوقو سره په ضديت کي قرار درلود. د ملګرو ملتو منشور و جګړې ته لاس اچول منعه کوي، مګر داچي د مشروعه دفاع په خاطر وي. همدارنګه د ملګرو ملتواحتمالي پوځي مداخله هم په هغو سختو شرائطو پوري مشروطه ګڼي چي دهغه پر اساس غبرګون بايد يوه متناسبه، حساب سوې او لنډمهاله عمل وي. ټوله حقوق پوهان په دې پوهيږي، هغه جګړې چي د ۱۹۹۰را وروسته تر سره سوي دي د يوه سره نامشروعه وي او په دې ترتيب هغه کسانو چي ددې جګړو مسؤليت يي پر غاړه اخيستی دئ دجنګي جنايت کارانو په حيث پيژندل کيږي . داخبره هم بايد په ياد ولرل سي چي متحده ايالاتو د نورو سره په لاس يوکولوکي د ملګرو ملتونو په وړاندي هغسي چلند وکړ چي تر دې د مخه فاشيستي دولتونو د « ملتونو د ټولني » سره کړی وو.

نن دملتونو پرحق باندي سترګي پټول کومه نوې خبره نده ،خو هغه ددې باعث سوې ده چي د ملتو د برابری اصل خپل ځای د متحده ايالاتو او په هغه پوري د ترلو حاکمو ډلو و تبعيضي اصل ته پرېښودل سي. دا هغه څه دي چي هغوی ځانته حق ورکوي يوه داسي « حياتي فضا» چي لازم يي ګڼي لاسته راوړي ترڅو يو ې خواته يي ځان او بلي خواته يي د ټول جهان ملتونه قرار ولري. داسي ملتونه چي د هغوی موجوديت يوازي هغه وخت د زغم وړ دئ چي د هغوکسانو و مخې ته خنډ نسي کوم چي ځانونه د « نړۍ باداران » بولي، يا داچي دهغوی د پروژو د تحقق مانع و نه ګرځي ، او «تهديد» هم ورته پيښ نکړي.

اوس به وګورو چي هغه «ملي» ګټي چي د متحده ايالاتو حاکمه ډله ځانته حق ورکوي هر ډول چي زړه يي غواړي هغه طرحه کړي، د ملتو او هيوادو پر حيثيت او ملي ګټو باندي ور و دانګي، کومي دي؟

حقيقت خو دادئ چي په امريکا کي دغه طبقه خپل ځان بس په يوه هدف کي تعريفوي او هغه د پيسو لاسته راوړل او په کاوبايي توګه د پردو هيوادو د شتمنيو بر الا لوټول دي. د امريکا دولت خپله لومړنی وظيفه د مسلطي سرمايي چي هماغه دڅو ملتيزه شرکتو څخه عبارت ده د هغوی دغوښتونو د تحقق او د هغوی د راضي کيدو په خدمت کي متعهده بولي .

په دې ډول دلته د نړۍ خلک چي د امريکا و ډيکتو ته سر نه ټيټوي د واشنګټن د حاکمي طبقي له نظره ديوه سره په امريکا کي د سرخ پوستانو په ډله کي حسابيږي، يعني داچي يوازي په دې شرط د ژوند حق لري چي د امريکا د متحده ايالاتو د څو ملتيزي سرمايي د ډيرېدو او د هيوادو د لاندي کيدو په وړاندي مزاحمت و نکړي. هغوی پردې خبره ټينګار کوي چي هر راز مقاومت به په ټولو ممکنه وسايلو سره وځپي ان که لازمه وي نو د ډله ايزي وژنود وسلو د استعماله څخه به لا هم ډډه ونکړي. او يا داچي لکه زموږ په وطن کي به هغوی هم لکه شورويان د تېښتي لار لټوي او د تجزيي خبري به را پورته کوي ، ددې خبري مانا داده مثلاً که د څو ملتيزه سرمايه دارانو د جملي نه يو مليون تنه د زياتي ګټي خاوندان کيږي نو دا بايد څه پروا ولري چي په عوض کي يي پنځه سوه مليونه انسانان قرباني سي . دياغي دولتو هغه اصطلاح چي غټ جورج بوش، بل کلينټن، او کوچني جورج بوش ياده کړېوه، هغه ته که څوک ښه پام وکړي، نو دا خبره خو تر هر دولت نه زيات پخپله پر امريکا باندي ښه تطبيقېداسي.!

د هيوادو د تجزيي خبري بي له شکه د خشونت او بربريت د واقعي مفهوم په مانا يوه امپرياليستي پروژه ده. داځکه چي خبره يوازي د نړۍ پر موجوده ټولنو باندي بابايي او د سرمايه دارۍ په يوه منسجمه سيستم کي د هغوی ادغام ندئ، بلکه مشکل يوازي د هغوی د طبيعي زېرمو لوټول دي. و عاميانه اقتصادي بديهياتو ته د ټولنيز تفکر را کښته کېدل، او په يو لنډمهاله موده کي د مسلطي مالي سرمايي څخه د زياتو ګټو و لاسته راوړلو ته يواړخيزه پاملرنه ده، يعني دداسي ګټو دلاسته راوړلود پاره تلاش دئ، لکه څرنګه چي پوهيږو يوازي د پوځي وسائلو د کارولو د لاري تر لاسه کېدای سي، دا په واقعيت کي د داسي يو وحشيانه او اخلاقي انحراف مسؤليت دئ چي يوازي د امريکا د هغو جنايت کارانو پر اوږو باندي پرېوتای سي چي د پردو هيوادو د شتمنيو د لاندي کولو د پاره يي د ملتو و تباهی ته لستوني رانغښتي دي . دغه کار درست هغه وخت شروع کيږي چي د يوه انساني او ارزښتناکه عادلانه نظام په نسبت د هر رازي تعهد څخه خپلي اوږې سپکي او د مسؤليت احساس ايسته و غورځول سي، او پر ځای يي صرف خپله لويه غوښتنه عملي کړي چي هماغه په اصطلاح د بردګی او بې بند وباره بازار څخه اطاعت دئ.

د نړۍ په دغه حساسه او ټاکونکي سيمه کي خو د لويي لوبي امريکايي پړاو را شروع دئ، خو زموږ وطن و هر اهريمن جهانخوار ته د ستاپ نکته ده. داسي غوړه ګوله نده چي وهر بد نيته اشغالګر ته دي په آساني سره د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

هضم وړ وي. دې خاورې ته چي د فرعونانو او متجاوزينو قبرستان ويل سوی دئ نو هغه داسي ټوکي نه دي چي متجاوز څوک دي هغه ته سطحي وګوري او پاملرنه دي ورته و نکړي. تاريخ دادئ يوځل بيا او هغه هم په لنډه زمانه کي و بد نيتو او مفسده «دوستانو» ته ځان ښکاره کوي، هغوی به ښايي زموږ د هيواد د «تجزيې» خوبونه ليدلي وي چي بېله ځلورمي نړۍ والي جګړې به يې تر سره نکړای سي، ولي تر هغه د مخه به امريکا و خپل ځانته هغه پروسه ګړندۍ کړي چي د خپل حتمي زوال د پاره يې را شروع کړېده.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ